دافغانستان اسلامی جمهوریت
د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون

جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

ECC

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

# مطبوعاتی خبرپاڼه

۲ سپتمبر ۲۰۰۹

| | |
|---|---|
| د ټاکنو په ورځ او له هغې نه وروسته ترلاسته شوی شکایتونه | ۲۱۸۷ |
| څېړل شوی او کتګوری شوی شکایتونه | ۲۰۸۹ |
| د الف لومړیتوب درلودونکی شکایتونه | ۶۵۲ |
| ټول تر لاسه شوی شکایتونه ( د کمپاین د مرحلې په ګډون) | ۲۶۵۴ |

د شکایتونو په اړه نوی معلومات

- د رای اچونی او رای شمیرنې په اړه د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د شکایتونو د ارزونی مرکز ته د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر د لمړی نیټی د مازدیګر تر ۰۴:۰۰ بجو پوری۲۱۸۷ شکایتونه را رسیدلي دي.
- شکایتونه له ترلاسه کیدو وروسته ارزول کیږي او له دریو نه په یوه کتګوري کې ځای په ځای کیږي. د الف ګروپ شکایتونه هغه شکایتونه دي چې که چیرې صحیح ثابت شي د ټاکنو پر پایلو اغیز کولای شي. د الف ګروپ شکایتونو ته د څیړلو او فیصلې لپاره اولویت ورکول کیږي.
- د سپتمبر د لمړی نیټی د مازدیګر تر ۴ بجو پوری له ۲۱۸۷ شکایتونو نه۶۵۲ شکایتونه د الف کتګوری شکایتونه ارزول شوی وو.
- تر لاسه شوي شکایتونه مختلف دی. په دی کی په درغلی سره د رای اچولو، د رنګ د خراب کیفیت، د تهدید او د ټاکنو د کارکوونکو پر ضد تورونه شامل دی.
- له څیړل شویو شکایتونو نه (الف، ب او ج) ۳۹.۴ سلنه یی د رای اچونی د بی نظمیو په اړه دی، په داسی حال کی چی ۲۹.۶ سلنه نور یی د بی ځایه مداخلی (تهدید، قانون نه د سرغړاوی او کمپاین ) په اړه دی.۱۱.۴ سلنه شکایتونه د رای اچونی ځایونو ته د لاسرسی په اړه دی.
- د الف کتګوری ډیری شکایتونه (۸۷ سلنه) د رای اچونی د بی نظمیو د تورونو په اړه دی.۶ سلنه یی د رای شمیرنی د بی نظمیو په اړه دی.
- بغلان ولایت د تر ټولو ډیر الف کتګوری شکایتونو درلودونکی دی (۷۱ سلنه). ورپسی کابل او کندهار د تر ټولو ډیرو الف کتګوری شکایتونو درلودونکی دی (په نوبت سره ۵۵ او ۳۹). د هر ولایت د الف، ب او ج کتګوری شکایتونو او د هغوی د جزییاتو له پاره ضمیمه شوی لست ته مراجعه کولای شی.

د څیړنو په اړه نوی معلومات

- د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون خپل د شکایتونو د ارزونی مرکز کوچنی کړی دی ځکه چی کمیسیون خپله توجه او امکانات د الف کتګوری شکایتونو څیړنی ته اړوی. په یو شمیر ولایتونو کی څیړنی روانی دی.
- د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون کمشنران او څیړونکی د غزنی، پکتیکا او د کندهار د دوه سفرونو په ګډون دری ولایتونو ته د څیړنو لپاره تللی دی. په یو شمیر ولایتونو کی د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون ولایتی څانګو ته دنده ورکړل شوی چی څیړنی وکړی.

یادونی

- د الف کتګوری د شکایتونو شمیره د تغیر وړ ده.کیدای شی د څیړنو په نتیجه کی د الف کتګوری یو شکایت ب کتګوری ته تبدیل شی یا برعکس.
- د شکایتونو شمیره د دوی په اړه د پریکړو شمیره نه ښیی. د څو شکایتونو د تورونو په اړه کیدای شی یوه پریکړه صادره شی.
- ددی لپاره چی د ټاکنو پایلی تصدیق شی د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون باید لومړی د ټولو ترلاسه شویو شکایتونو په هکله پریکړه وکړی.
- د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رای اچونی د بی نظمیو په اړه خپل داخلی تفتیش ترسره کوی.
- د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ټولو هغه کسانو ته چی غواړی شکایتونه درج کړی یادونه کوی چی د کمیسیون د کاری طرزالعمل پر بنسټ شکایتونه باید د ادعا شوی سرغړونی نه د ۷۲ ساعتونو په موده کی درج شی.

د افغانستان د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون یوه خپلواکه اداره ده چي د ټاکنو د قانون د ۵۲ مي مادې په اساس را منځته شوې ده تر څو د انتخاباتو د پروسې په اړوند ټول شکایتونه فیصله کړي. شکایتونه د تخطی نه وروسته په ۷۲ ساعتو کي باید ثبت شي. د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون به د ټولو شکایتونو په هکله منصفانه، روښانه او پروخت فیصله وکړی. د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون به جدي قضیي له اوله تر پایه څیړي او کاندیدان او د دوئ پلویان باید د شکایتونو د پروسې پایلی ته له صبر نه کار واخلي.

د لا نورو معلوماتو لپاره له احمد مسلم خرم سره په لاندې پته اړیکه ونیسئ:

احمد مسلم خرم
ahmad.muslem@ecc.org.af

+93 (0) 798188605